د افغانستان د جمهوري دولت رسمي خپرونه

# رسمي جريده

## د کشمشو د صادراتو د پراختيا د موسسې اساسنامه

---

## اساسنامه موسسه انکشاف صادرات کشمش

اوه لسمه گڼه

پرله پسې لمبر «۲۸٤»

نیټه : سه شنبه د۱۳۵۳ کال دتلې دمیاشتې (۳۰)

دامتیاز خاوند : دعدل وزارت

مسؤول مدیر : م . حسین (طغیان)

مرستیال: ع. حبیب (امین)

پته:دعدل وزارت کابل،افغانستان

رسمی جریده
د افغانستان د جمهوری دولت رسمی

## دعظمی صدارت د ۱۳۵۳ کال دوېزی د میاشتی دشپاړسمی نیټی ۶۷۲ گنه فرمان

**بناغلی داکتر عبدالمجید عدلیه وزیر!**

د وزیرانو مجلس په ۶۶۱ گڼه فیصله کښې د ۱۳۵۲ کال دوېږی د میاشتی ددولسمی نیټی په غونډه کښې دتجارت دوزارت د ۱۳۵۳ کال دزمری دمیاشتی داته ویشتمی نیټی ۶۱۱ گڼی عرض پاڼی ته په کتنه د ممیزو دتجارت دزیاتوالی اوپراختیا اود هغو دصادراتو دوضعی دتنظیم او ښه توب په منظور دممیزو د صادراتو پراختیادمو سسی دتاسیس په هکله لاندی مراتب تصویب کړل :

« دممیزو د صادراتو د پراختیا مؤسسه چه دهغی دمرامنامی سره سم په پنځلسو مادو کښی د ننه د دارالانشاء مهر پری لگیدلی دی منظورده . »

## فرمان نمبر ۶۷۲ مورخه ۱۶ر۶ر۱۳۵۳ مقام منیع صدارت عظمی

**بناغلی دکتور عبدالمجید وزیرعدلیه!**

مجلس وزراء تحت فیصله شماره (۶۶۱) در جلسه تاریخی ۱۲ر۶ر ۱۳۵۳ با ملاحظه ورقه عرض شماره (۶۱۱) مورخ ۲۸ر۵ر ۱۳۵۳ وزارت تجارت راجع به تاسیس موسسه انکشاف صادرات کشمش بمنظور تزئید و توسعه تجارت کشمش و تنظیم و بهبود وضع صادرات آن مراتب آتی را تصویب نمود :

«تاسیس موسسه انکشاف صادرات کشمش مطابق مرامنامه آن که در ظرف پانزده ماده به مهر دارالانشاء رسیده منظور است . »

مراتب تصویب مجلس عالی وزراء

# جریده رسمی

دوزیرانو دعالی مجلس مراتبچه دافغانستان دجمهوری‌دولت درئیس د حضـــو ر د منـــظـــو ر ی پـــــه شر ف ر سیـــد لـــی ا و د ۱۳۵۳ کال‌دوری دمیاشتی‌د ۱۳ نیتی په ۱۷۵۲ گنـــه کښی ثبت شویده تاسی ته خبر درکړ شو تر څو په رسمی جریده کښی یی خپر یدو ته اقدام وشی .

**داکتر محمد حسن‌شرق**

که به شرف منظوری حضور رئیس دولت جمهو ری افغا نستان رسیده وبه شماره (۱۷۵۲) مورخه ۱۳ر٦ر ۱۳۵۳ ثبت گردیده بشمااطلاع داده شد تادر نشر آن به جزیده رسمی اقدام گردد .

**داکتر محمد حسن شرق**

# رسمي جريده

## دمميزو دصا دراتو دپراختيا د مؤسسي مرامنامه

د مميزو دتوليد د زياتوالي او اصلاح اود تجارت دپراختيا اودهغو دساتني په منظور دتجارت دوزارت دمميزو د صادراتو دپراختيا په نوم يوه دحقوقي شخصيت لرونكي او غير انتفاعي مؤسسه جوړوي .

### لمړی فصل

**لمړی ماده ـ**

موسسه دمميزو د صادراتو د پراختيا په نامه ده .

**دوهمه ماده ـ**

دغه مؤسسه دخپلو وظيفو دپاى ته رسولو لپاره كولاى شي چه‌خپلي اړتيا وړ منقول او غير منقول مالونه وپيري .

**دريمه ماده ـ**

دمؤسسي مركز دكابل په ښار كښي دی .

**څلورمه ماده ـ**

د مؤسسي و ظايف په لاندی‌ډول دي :

۱ــ دخارجي‌سيالي‌په مقابل‌كښي دافغاني صادراتو دحمايي په منظور دمميزو دبين المللي بازارونو كتنه او څارنه .

## مرامنامه موسسه انكشاف صادرات كشمش

بمنظور اصلاح و تزئيد توليد و انكشاف تجارت و حفظ ونگهداری كشمش ،وزارت تجارت يك موسسه دارای‌شخصيت حقوقی‌و غير انتفاعی‌رابنام موسسه‌انكشاف صادرات كشمش تاسيس مينمايد .

### فصل اول

**ماده اول ـ**

اسم موسسه ـ موسسه انكشاف صادرات كشمش ميباشد ،

**ماده دوم ـ**

اين موسسه برای انجام وظايف خويش ميتواند اموال منقول وغير منقول طرف ضرورت را خريداری نمايد .

**ماده سوم ـ**

مركز موسسه در شهر كابل ميباشد .

**ماده چهارم ـ**

وظايف موسسه قرار ذيل است ـ

۱ــ مطالعه ومراقبت‌وضع بازار های بين المللی كشمش بمنظور حمايه صادرات افغانی در برابر رقابت خارجی در بازارهای مذكور.

٢ـ په بین‌المللی بازار ونو کی دافغانی ممیزو دموقعیت دساتنی او لوړتیا په منظور دستندرد څا ر نه

٣ـ دافغانی ممیزو دصادراتواوپه خارج کښی‌یی دخرڅلاو تنظیم او اصلاح .

٤ـ دعنعنوی بازارو نو پراخوالی اود نویو بازارونو غوښتنه .

٥ـ دممیزو دتولیدی کوپراتیفونو سره مرسته اود هغو د صادراتو لاربښوونه .

٦ـ دکم پانگی تاجرا نو سره دممیزو د صادراتو په هکله مرسته اود هغو لاربښوونه .

٧ـ د مربوطو تاجرانو نه په نمایندگی دباندنیو هیوادو نو د نمایندگیو او مؤسسو سره دممیزو دتجارتی قرارداد ونو عقدول .

٨ـ په‌خارج کښی بازار پیداکول اود افغانی ممیزو تبلغات .

## دوهم فصل

### پنځمه ماده ـ

دممیزو د صادراتو د پرا ختیا مؤسسه دلاندینیو اورگانو په‌واسطه اداره کیږی ـ

١ـ مدیره هیات .

٢ـ عامل هیات .

٢ـ مرا قبت ستندرد د بمنظور حفظ وارتقای مو قعیت کشمش افغانی در بازار های بین‌المللی .

٣ـ تنظیم واصلاح صادرات و فروش کشمش افغانی در خارج .

٤ـ تو سعه بازار های عنعنوی وجستجوی بازار های جدید .

٥ـ کمک ومساعدت‌باکو پراتیف های تولیدی کشمش و رهنمائی صادرات آنها .

٦ـ رهنمائی و مساعدت درمورد صادرات کشمش با تجار کم سرمایه .

٧ـ عقد قرار داد های تجارتی کشمش با نمایندگی و مو سسات ممالك خارجی به نمایندگی از تجار مربوط .

٨ـ با زار یابی وتبلیغات‌کشمش افغانی در خارج .

## فصل دوم

### ماده پنجم ـ

مو سسه انکشا ف صادرات کشمش توسط اورگانهای ذیل‌اداره میشود .

١ـ هیئت مدیره .

٢ـ هیئت عامل .

# رسمی جریده

شپږمه ماده ــ

دمؤسسې مدیره هیات له یوولسو غړو څخه جوړ شویدی چه پهلاندی ډول دلاندې ذکر شویو مراجعو له خوا د درې کاله لپاره ټاکل کیږي ــ

١ــ نه (٩) غړي دممیزو دتاجرانو دمؤسسو او کوپراتیفونو له خوا پهلاندی ډول ټاکل کیږي .

٢ــ انفرادي تاجران او شرکتونه شپږ تنه .

٣ــ د ممیزو پاکولو فابریکې دوه تنه .

٤ــ کوپراتیفونه یوتن .

٥ــ غړی دتجارت دوازرت لهخوا یوتن .

٦ــ غړی دکرنې او اوبو لګولو د وزارت لهخوا یوتن .

دمدیره هیات نه غړی د هغو صادرونکو لهخوا ټاکل کیږي چه د تجارتي جواز نامې لرونکې وي اوپه درې وروستیو کلونو کښې یې لږترلږه دکال پنځوس تنه ممیز خارجته صادر کړي وي .

اومه ماده ــ

دمدیره هیات دندې په لاندې ډول دي ــ

ماده ششم ــ

هیئت مدیره موسسه مرکب از یازده عضو میباشد کهبه ترتیبذیل ازطرف مراجع آتی الذکز برایمدت سهسال تعین میشود .

١ــ ٩ــ عضو از طرف تجار موسسه وکوپراتیف های کشمش بهترتیب ذیل تعیین میگردد .

٢ــ تجار انفرادی و شرکت ها شش نفر .

٣ــ فابریکات کشمش پاکی دو نفر .

٤ــ کوپراتیف ها یك نفر .

٥ــ عضو از طرف وزارت تجارت یك نفر .

٦ــ عضو از طرف وزارت زراعت وابیاری یكنفر .

نهعضو هیئت مدیره از طرف صادر کننده گانی تعیین میشود که دارائی جوازنامه تجارتی بودهودرسه سال اخیر اقلا سالانه پنجاه تن کشمش را بخارج صادر نموده باشند .

ماده هفتم ــ

وظایف هیئت مدیره قرار ذیل است .

# جریده رسمی

۱ــ مدیره هیات مکلف دی چه‌د افغانی ممیزو دسورت دلوړولو اوپه بهرنیو مارکیټونو کښې د خر څلای دحجم د زیاتوالی لپاره د مؤسسې کلنی پروګرام او پالیسی له‌خپل مؤ ظفیت څخه وروسته په دری میاشتو کښې دننه طرح اود هغې‌د تطبیق لازم تـدا بیر ونیسی اود تجارت دوزارت‌دمقام منظوری‌په‌لاس راوړی .

۲ــ مدیره هیات لږ ترلږه په‌کال کښې څلور ځله غونډه کوی اود مؤسسې دچارو دصحیح پرمخبیولو په‌هکله لازمی‌لاربنوونی اوتصویبونه صادروی .

۳ــ دمدیره هیات غړی دمعاش‌او زیار برخې مستحق نه‌دی .

۴ــ دمدیره هیات غونډې په‌کابل کښې صورت مومی. د مدیره هیات دهغو غړو دسفر او اقامت لګښت چه له ولایاتو څخه کابل ته راځی د مؤسسې له‌خوا ورکول کیږی .

۵ــ مدیره هیات دخپلو غړو له منځ نه یاله هغو نه پرته، دری تنه دعامل هیات په حیث ټاکی .

۶ــ مدیره هیات دعامل هیات‌اود هغه درئیس واک ټاکی .

۷ــ مدیره هیات دعامل هیات‌اود

۱ــ هیئت مدیره مکلف است‌تا جهت بلند بـردن سور ت کشمش افغانی وافزایش در حجم فروش‌در مارکیت های خارجی پروگـرا م و پالیسی سالانه موسسه را درظرف سه‌ماه بعداز موظفیت خویش طرح وتدابیر لازمه تطبیق آنرا اتخاذ و منظوری مقام وزارت تجارت‌راحاصل نمایـد .

۲ــ هیئت مدیره ا قـلا در سال چهار مرتبه تشکیل جلسه نـموده وتصاویب وهدا یات لازمه را درباره پیش بردصحیح امور موسسه‌صادر مینماید .

۳ــ اعضای هیئت مدیره مستحق معاش وحق‌الزحمه نمی باشد .

۴ــ جلسات‌هیئت مدیره درکابل صورت میگیرد ومـصارف سـفر واقامت اعضای هیئت مدیره که از ولایات‌به کابل‌میایند ازطرف‌موسسه تادیه میشود .

۵ــ هیئت مدیره از بین یا خار ج از اعضای خویش سه نفر رابحیث هیئت عامل تعیین مینماید .

۶ــ هیئت مدیره صلا حیت‌هیئت عامل‌ورئیس آنرا تعیین مینماید .

۷ــ هیئت مدیره بودجه معاشات

مميزو دصادراتو دپراختيا دمؤسسې بــود جــه مـعـا شات او لګښت منظوروي .

۸ــ مديره هيات هغه وخت کولای شي چه غونډه وکړي چــه لږ تر لږه دهيات دوه ثلثه غـــړي حاضروي. تصميمونه يې درايو په اکثريت د اعتبار وړدي. درايو دبرابروالي په صورت کښې دمديره هيات رئيس دوه رايي لري .

**اتمه ماده ــ**

عامل هيات له‌هغه‌يو‌رئيس‌او دوه غړو څخه جوړ شويدي چــه دمديره هيات له‌خوا دتجارت دوزارت دمقام له منظوري نه وروسته ديو کال د مودې لپاره ټاکل کيږي .

**نهمه ماده ــ**

دعاملو غړو بيا ټاکل مجاز دي .

**لسمه ماده ــ**

دعامل هيات دندې ــ

دعامل هيات دندې له هغو دندو نه‌زياتې چه دمديره هيات له‌خواورته ټاکل کيږي په لاندې ډول‌دي ــ

۱ــ دميزو دصادراتو د پراختيا دموسسې دپاليسي او پـرو ګــرام تعقيب او پرڅاى کول .

۲ــ دموسسې دکلني‌بودجي‌ترتيب‌او عامل هيات ته‌يې وړاندې کول .

ومصارف هيئات عامــل و موسسه انکشـــاف صــادرا ت را منــظور مينما يد .

۸ــ هيئت مديره وقــتى ميتواند تشکيل جلسه نمايد که اقلا دوثلث اعضاى هيئات‌حاضر باشدتصميمات شان بـــه اکثريت اراء قابل اعتبار است در صورت تساوى اراء رئيس هيئت مديره دوراى دارد .

**ماده هشتم ــ**

هيئت عامل متشکل ازيك رئيس ودو عضو ميباشد که‌ازطرف هيئت مديره بعد از منظورى مقــام وزارت تجارت براى مــدت يکسال تعيين ميگردد .

**ماده نهم ــ**

تعيين مجدداعضاى عامل مجازاست.

**ماده دهم ــ**

وظايف هيئت عامل .

و ظايف هيئـــت عامل مــز يــد بر وظا يفيکه از طرف هيئت مديره برايشس تعيين ميشود قرار آ تــى ميباشد :

۱ــ تعقيب وتطبيق پاليسى و پروگرام موسسه انکشاف صادرات کشمش .

۲ــ ترتيب بودجه‌ساليانه‌موسسه وارائه آن به هيئت مديره .

۳ـ د پرسونل استخدام، اوله مدیره هیات څخه دلاس تـه راغلی واك په حدودوکښی داداری اوحسابی چارو پای ته رسول .

**یولسمه ماده ـ**

د حکومت سره دمؤسسی ارتباط دتجارت دوزارت لـه لاری صور ت مومـی .

**مالی مدارك**

**دولسمه ماده ـ**

مؤسسه دخپلو دندو دپای تـه رسولو دمربوطو لګښتونو دورکړی لپاره لهلاندی مـا لـی مدارکو ګټه اخلی .

۱ـ بهرته د ممیزو له صادراتو څخه په هرتن (۵۰) افغانی

۲ـ هغه وسایل او پیسی چه له بیـن المللی مـؤ سسو اودوستو هیوادو نو څخه دمالی یـا تخنیکی مرستی په ډول دتجارت دوزارت له خوا برابر، اود ممیزو دصادراتو د پراختیا د موسسی په لاس ورکول کیږی .

**دیارلسمه ماده ـ**

لهدی کبله چه دممیزو دصادراتو دپراختیا موسسه یوه غیر انتفاعی مؤسسهده پر عایداتو دمالیاتو تابع نهده .

۳ـ استخدام پر سونل وانجام امور اداریوحسابی درحدودصلاحیت حاصله از هیئت مدیره .

**ماده یازدهم ـ**

ارتباط موسسه بـــا حکومت از طریق وزارت تجارت صورتمیگیرد

**مدارك مالی**

**ماده دوازدهم ـ**

موسسه برای پردا خت مصارف مربوطه به اجرای وظایف خویش از مدارك مالی ذیل استفاده مینما ید.

۱ـ مبلغ (۵۰) افغانی فی تن از صادرات کشمش در خار ج

۲ـ وسایل ومبالغی کهازموسسات بینالمللی وممالـك دوست بصفت امداد مالی یاتخنیکی ازطریق وزارت تجارت تهیه و بدسترس مـوسسه انکشاف صادرات کشمش گذا شته میشود .

**ماده سیزدهم ـ**

ازینکه موسسهانکشاف صادرات کشمش یك موسسه غـیر انتفاعی است تابع مالیات برعایدات نـمی باشد .

# رسمی جریده

## دریم فصل

**څوارلسمه ماده ـ**

د ممیزو د صادراتو د پراختیا مؤسسه دتجارت دوزارت دپیشنهاد اود وزیرانو دعالی مجلس دتصویب په اثر لغوه کیږی .

**پنځلسمه ماده ـ**

دممیزو دصادراتو د پراختیا د مؤسسی دتصفیی‌چاری دمدیره‌هیات دلار ښوونو او تصویبونو په‌اساس پای ته رسیږی .

دغه مرامنامه په رسمی جریده کی‌له خپریدو وروسته مرعی‌الاجراء اود اعتبار وړ دی .

## فصل سوم

**ماده چهار دهم ـ**

مؤسسه انکشاف صادرات در اثر پیشنهاد وزارت تجارت‌وتصویب مجلس عالی وزراء لغو میگردد .

**ماده پانزدهم ـ**

امور تصفیه موسسه انکشاف صادرات کشمش بتاسی از هدایات وتصاویب هیئات مدیره انجام مییابد .

مرامنامه هذا بعد از نشر در جریده رسمی مرعی الاجراء و مدار اعتبار میباشد .

## دعظمی صدارت د۱۳۵۳ کال دزمری دمیاشتی ددریمی نیټی ۳۸۱ گڼه فرمان

**ښاغلی داکتر عبدا لمجید عدلیه وزیر !**

دوزیرانو مجلس په ۵۷۵ گڼه فیصله کښی د۱۳۵۳ کال دزمری د میاشتی دلمړی نیټی په غونډه کښی داطلاعاتو او کلتور دوزارت د۱۳۵۳ کال دزمری دمیاشتی دلمړی نیټی عرض پاڼی تهپه کتنه دبهر نیو دولتی مؤسسو دفلم اخستو نکو د کمیشن پههکله لاندی مراتب تصویب کړل :

((په افغا نستان کښی دداخلی اوخارجی فلم اخستونکو دمقر راتو په لسمه ماده کښی دی لاندی مراتب زیات شی .

لاندی فلم اخستونکی دی دورځی څلویښت دالره له کمیشن څخه معاف شی .

۱ـ هغه دولتی فلم اخستو نکی چهد دواړو حکومتونو په موافقه په افغا نستان کښی فلم اخلی .

## فرمان نمبر ۳۸۱ مورخه ۳ر۵ر۱۳۵۳ مقام منیع صدارت عظمی

**ښاغلی دوکتور عبدالمجید وزیر عدلیه !**

مجلس وزراء تحت فیصله شماره (۵۷۵) درجلسه تاریخی ۱ر۵ر۵۳ باملاحظهورقهعرض مورخ۱ر۵ر۱۳۵۳ وزارت اطلاعات وکلتور راجع بـه کمیشن فلمبرداران موسسات دولتی خارجی مراتب آتی را تصویب نمود.

((در ماده دهم مقررات فلمبر ـ داران داخلی وخارجی در افغانستان مراتب آتی تزئید گر دد :

فلم برداران ذیل ازکمیشن فی روز چهل دالر معاف قرارداده شوند .

۱ـ فلم برداران دولتی که باثـر موافقه دوحکومت در افغا نستانفلم برداری مینمایند .

# جریده رسمی

۲ــ هغه اخباری او تلو یزیونــی فلم اخستونکی چه زمونږ دجمهوری جشن په مراسمو کښی گډون کوی اودغه نیکمرغه ورځ خلکو اونړی‌ته ورپیژنی .

۳ــ هغه فلم اخستو نکی چه لــه هغو عمرانی پروژو څخه‌چه‌د دوستو هیوادونو په مرسته او مسا عدت جوړیږی اومرسته کوونکی هیواد د خپلو فلم اخستونکو په واسطـــه‌د معرفی یادکار دپرمختگ لپاره دکار له‌جریان څخه فلم اخلی)) .

دوزیرانو دعالی مجلس مراتب‌چه دافغا نستان‌دجمهوری دولت درئیس دحضور دمنظوری په‌شرف رسیدلی اود ۱۳۵۳ کال دزمری دمیاشتی د دوهمی نیتی په ۱۵٦ گڼه‌کښی ثبت شوی دی تاسی ته خبر درکړ شو ترڅو چه‌په رسمی جریده کښی یی خپریدو ته اقدام وشی .

**داکتر محمد حسن شرق**

۲ــ فلم برادران اخباری و تلویزـ یونی که در مراسـم جشن جمهوری مـا شر کت مینما یـند و ایـــن روز فر خنده را برا ی مـــــر دم وجهان معرفی میدارند .

۳ــ فلم بردارانیکه از پروژه‌های عمرانی که بمساعدت وکمك ممالـك دوست اعمار میگردد وکشور کمك دهنده تو سط فلم بر دا ران خوداز جریان کار پروژه های امدادی برای معرفی ویاپیشرفت کار فلم برداری مینماید))

مراتب تصویب مجلس عالی‌وزراء که‌به شرف منظوری حضور رئیس دولت جمهوری افغا نستان رسیده و بـــه شما ر ه (۱٤٥٦) مو ر خه ۲ر٥ر۱۳٥۳ ثبت گردیده بشمـــا اطلاع داده شدتادر نشران به‌جریده رسمی اقدام گردد .

**داکتر محمد حسن شرق**

# جریده رسمی

**دښاغلی محمد حسین تجارتی خصوصیات په لاندی ډول دمرکزی استیناف د عالی محکمی دتجارتی دیوان دسندونو او تجارتی علامو دثبت په دفترکښی ثبت شویدی :**

۱ــ د تـاجـر نـوم محمد **محسن**

۲ــ د پـلار نـوم میرزا حسین .

۳ــ د زیـږیدو ځای یــی ــ سرخ پارسا .

٤ــ تــا بعیت افغان

٥ــ دتجارت عنوان ــ

دمحمد حسین تجارتخانه .

٦ــ د تجارت موضوع ــ

۱ــ صادرات ــ میوی او غالی .

۲ــ واردات ــ موټر او سامان یی، ټوکران ــ بنجارګی ــ ماشین باب .

۷ــ د تجارت ځــای ــ

دفرقه مشر سرای کابل .

۸ــ پـا نـګـه ــ

دوه سوه زره افغانی .

۹ــ د امضاء واکمن کسان ــ

دمحمد حسین امضأ اعتبار لری.

**دښاغلی محمد حسین تجارتی خصوصیات په لاندی ډول دمرکزی استیناف د عالی محکمی دتجارتی دیوان دسندونو او تجارتی علامو دثبت په دفترکښی ثبت شویدی :**

۱ــ د تـاجـر نـوم محمد حسین

۲ــ د پـلار نـوم علی شاه .

۳ــ د زیـږیدو ځای یــی **پروان** .

٤ــ تــا بعیت افغان

٥ــ دتجارت عنوان ــ

تجارت خانه محمد حسین .

٦ــ د تجارت موضوع ــ

۱ــ صادرات ــ وچه او تازه میوه ــ پوستکی، حبوبات، غالی ، پوستین پوستینچه .

۲ــ واردات ــ چای، دموټر سامان برزی، موټر، ټکران، بنجارګی سامان روغنیات، چینی .

۷ــ دتجارت ځای **زردادمارکیت.**

۸ــ پـا نـګـه سل زره افغانی

۹ــ د امضاء واکمن کسان ــ

دمحمدحسین لاسلیک اعتبار لری .

# جریدهٔ رسمی

**د ښاغلي خان علي تجارتي خصوصیات په لاندې ډول د مرکزي عالي استیناف دتجارتي دیوان سندونو او تجارتي علامو دثبت په دفتر کښې ثبت شویدي :**

۱ـ دتاجر نوم ـ خان علي .

۲ـ دپلار نوم ـ مهر علي .

۳ـ وزیږیدو ځاي یې ـ پروان

۴ـ تابعیت افغان .

۵ـ دتجارت عنوان ـ د خان علي تجارتخی .

۶ـ دتجارت موضوع ـ صادرات ـ وچه اوتازه میوه، غالي پوستکي .

واردات ـ دموټر پرزه جات ، دماشینو نه ، بنجارگي، ټوکران، غوړي، چاي، دبایسکل تایر ، د ودانیو سامان.

۷ـ دتجارت ځای ـ دچنداولو سرای.

۸ـ پانګه ـ سل زره افغاني .

۹ـ دامضاء واکمن کسان ـ د خانعلي لاسلیک اعتبار لري .

**دښاغلي حاجي عبدالقیوم تاجر زاده تجارتي خصوصیات په لاندې ډول دمرکزي عالي استیناف دتجارتي دیوان دسندونو او تجارتي علامو دثبت په دفتر کښې ثبت شویدي :**

۱ـ دتاجرنوم ـ حاجي عبدالقیوم

۲ـ دپلار نوم ـ عبدا لطیف

۳ـ دزیږیدلو ځاي یې ـ کابل .

۴ـ تابعیت ـ افغان .

۵ـ دتجارت عنوان ـ دتاجر زاده تجارتخی .

۶ـ دتجارت موضوع ـ صادرات ـ وچه اوتازه میوه، غالي، پوستکي او حبوبات اوکولمې .

واردات ـ پرزې، روغنیات، رادیو دماشینو سامان ،دبرښنا سامان ، ټوکران ، پر زه خرڅول او چیني.

۷ـ دتجارت ځاي د میوند واټ لمړی برخه .

۸ـ پانګه دری سوه زره افغا ني.

۹ـ د امضاء واکمن کسان ـ د عبدالقیوم لاسلیک اعتبار لري .

# رسمي جريده

**د ښاغلي محمد محسن تجارتي خصوصيات په لاندې ډول دمرکزي استيناف د عالي محکمې دتجارتي ديوان دسندونو او تجارتي علامو دثبت په دفترکښې ثبت شويدي :**

۱ــ د تاجر نوم محمد محسن

۲ــ د پلار نوم محمد علي

۳ــ د زيږيدو ځاي يې ــ کابل

٤ــ تابعيت افغان

٥ــ دتجارت عنوان ــ دمحمد محسن تجارتخې

٦ــ د تجارت موضوع ــ

۱ــ صادرات: وچه او تازه ميوه ، داوزو اوپسونوپوستکي، پوستينچه اوکلمي .

۲ــ واردات ــ دبرېښنا سامان ــ دموټر سامان، ماشين آلات، تور او شين چاي،

۷ــ د تجارت ځاي ــ نوابي مارکيت .

۸ــ پانګه سل زره افغانۍ .

۹ــ د امضاء واکمن کسان ــ دمحمد محسن لاسليک اعتبار لري .

**د ښاغلي محمد نادر تجارتي خصوصيات په لاندې ډول دمرکزي عالي استيناف د تجارتي ديوان د سندونو او تجارتي علامو دثبت په دفتر کښې ثبت‌شويدي.**

۱ــ دتاجرنوم ــ محمد نادر .

۲ــ دپلار نوم ــ حاجي الياس‌خان

۳ــ د زيږيدلو ځاي‌يې ــ د حاجي شريفه قلعه .

٤ــ تابعيت ــ افغان .

٥ــ دتجارت عنوان ــ دمحمد نادر تجارتخانه .

٦ــ دتجارت موضوع ــ صادرات ــ غالي ــ پوستکي، حبوبات. کولمې ، پوستنچې، وچه او تازه ميوه .

واردات ــ دګنډلو ماشين، سيمساري بنجارګي، دموټر تاير اوتيوپ، موټر او د بايسکل پرزې .

۷ــ دتجارت‌ځاي ــ سراجي ــ کابل

۸ــ پانګه ــ پنځه‌سوه زره افغانۍ

۹ــ د امضاء واکمن کسان ــ د محمدنادر لاسليک اعتبار لري .

# جریده رسمی

**دښاغلی غلام محمد تجارتی خصوصیات په لاندی ډول دمرکزی استیناف د عالی محکمه ی دتجارتی دیوان دسندونو او تجارتی علامو دثبت په دفتر کښی ثبت شویدی :**

۱ــ د تـا جـر نـوم غلام محمد .

۲ــ د پـلار نـوم سمندر خان .

۳ــ د زیـږیدو ځای یـی ــ دکابل چهاردهی .

٤ــ تـا بعیت افغان .

٥ــ دتجارت عنوان دغلام محمد تجارتخانه .

٦ــ د تجارت موضوع ــ

۱ــ صادرات ــ وچه او تازه میوه ــ پوستکی ــ غالی.

۲ــ واردات ــ چای، نخی اوسندی ټوکران، دبایسکل تایر او تیوپ د بریښنا سامان د (   ) سامان ــ دسنډو سپنسی دتشناب کاغذ ، راډیو، باد پکی، بخاری، تایپ .

۷ــ تجارت ځای گلزار مار کیت .

۸ــ پانگه سل زره افغا نی.

۹ــ د امضاء واکمن کسان ــ دغلام محمد مهر اعتبار لری .

**د ښاغلی فـهـیـم احـمـد صدیـق زاده تـجارتی خصوصیات په لاندی ډول دمرکزی استیناف د عالی محکمه ی دتجارتی دیوان دسندونو او تجارتی علامو دثبت په دفتر کښی ثبت شویدی :**

۱ــ دتاجر نوم فهیم احمد .

۲ــ دپلار نوم خواجه فتح محمد.

۳ــ دزیږیدو ځای یی کابل.

٤ــ تـا بعیت افغان .

٥ــ دتجارت عنوان تیمورشاهی واټ.

٦ــ د تجارت موضوع ــ

۱ــ صادرات ــ وچه او تازه میوه ــ غالی ،پوستکی ، پو ستینچـــی ، لاسی کارونه.

۲واردات ــ بنجارکی سامان، تایر اوتیوپ،دبایسکل سامان، **کشمیری.**

۷ــ د تجارت ځـای ــ تیمورشاهی واټ لمړی نمبر **مغازه** .

۸ــ پـا نـگـه سل زره افغانی .

۹ــ دامضأ وا کـمـن کـسـا ن دفهیم احمد لاسلیک اعتبار لری .

# جریده رسمی

**خصوصیات تجار تسی بناغلی (محمدمحفوظ) قرار ذیل در دفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی ریاست دیوان تجارت استیناف‌عالی مرکزی به ثبت رسیده است .**

۱ـ اسم تاجرـ محمد محفوظ

۲ـ ولدـ محمد سرور خان .

۳ـ محل تولد آنـ کابل .

٤ـ تابعیت ـ افغان .

٥ـ عنوان تجارتـ سروریان .

٦ـ موضوع تجارت ـ صادرات‌ـ قالین، میوه‌جات تازه وخشك .

واردات ـ سامان برق، خورده فروشی ، بنجارگی .

۷ـ موضوع تجارت ـ سروری مارکیت .

۸ـ سرمایه‌ـ یکصد وپنجاه هزار افغانی .

۹ـ اشخاص دارای صلا حیت امضا محمدمحفوظ اعتبار دارد .

**خصوصیات تجار تسی بناغلی (حسین علی‌خان) قرار ذیل در دفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی ریاست دیوان تجارت استیناف‌عالی مرکزی به ثبت رسیده است .**

۱ـ اسم تاجرـ حسین علی .

۲ـ ولدـ نوروز علی .

۳ـ محل تولد آن سرخ پارسا.

٤ـ تابعیتـ افغان .

٥ـ عنوان تجارت ـ تجارتخانه حسین علی .

٦ـ موضوع تجارتـ صادراتـ قالین، گیلم، میوه جات، خشك، تازه پوست، پوستین .

وارداتـ اموال‌لیلامی سیمساری سامان تعمیراتیـ سامان برق، پرزه جات‌جدید، موترپرزه جات، مستعمل موتر عراده جات، موتر، رخت‌باب.

۷ـ موضع تجا رت ـ سرای چنداول .

۸ـ سرمایه‌ـ یکصد هزار افغانی

۹ـ اشخاص دارای صلا حیت امضاء حسین علی اعتبار دارد .

## دکلهون بیه

| | |
|---|---|
| په کابل کښی | (۲۲۰) افغانی |
| پەولایاتو کښی | (۲٤۰) افغانی |
| دپوهنی شاگردانوته | نیمه بیه |
| پەباندنیو هیوادو کښی | (۱۰) امریکانی‌دالره |

ددی گڼی بیه: (۲۰) افغانی

THE REPUBLIC OF AFGHANISTAN

# OFFICIAL GAZETTE

ISSUE NO. 284

DATE: OCTOBER 22, 1974.

ADDRESS: MINISTRY OF JUSTICE
KABUL, AFGHANISTAN

EDITOR: M. H. TUGHYAN.

ASSISTANT EDITOR: A. HABIB AMIN

تاریخ: سه شنبه (۳۰) میـزان ۱۳۵۳

تعداد طبع (۲۵۰۰) نسخه

دولتی مطبعه